# سرمني اوبنکي




ويناوال
محمد معصوم هوتک
۱۳۶۹ش

Ketabton.com
www.hotakonline.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اوښکي د هغه ویاړلي، سر لوړي، مېړني او اتل قام (پښتانه) نامه ته اهداء کوم چي حماسو یې تل بیده اولسونه راویښ کړي، د محکومو اولسو په زړه کي یې د آزادۍ غوښتني روحیه راژوندۍ کړې او د استبداد او استعمار پخې ماڼۍ او اوسپنیز دېوالونه یې ړنګ کړي دي - خو ده ته په پاداش کي کنډواله وطن او ګړوب کور ور رسېدلئ دئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| لومړۍ خبري | 5 |
| لويه خدايه (ج) | 6 |
| ناورين | 7 |
| بيځايه توقع | 8 |
| عبرت | 9 |
| آښکلي کندهاره | 10 |
| ارذل المخلوقات | 12 |
| د سيد جمال الدين افغاني قبر ته | 13 |
| د اشنا ياد | 14 |
| زيړه تابلو | 15 |
| کريږي | 16 |
| ډوبه جاله | 17 |
| د ميني تړون | 19 |
| بې خونده اختر | 20 |
| حتمي برى | 22 |
| مرموزه ولوله | 24 |
| د سرنوشت شېبه | 25 |
| انجام | 27 |
| لبرېزه کاسه | 28 |
| افتضاح | 29 |
| د پوليګون دښت | 31 |
| نه دي دي په ياد | 33 |
| څه پروا ده؟ | 35 |
| د شهيدانو چوک يا رنځور کندهار | 36 |
| هيڅ مي باور نه و | 38 |
| سترې خپه | 40 |
| کوثري خاځکي | 42 |
| توبه يې تر بدترو | 43 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| د لمني روی | 45 |
| د زړه سوده | 46 |
| سپېڅلی احساس | 47 |
| د ازل کښلي | 49 |
| انسان | 50 |
| د کاڼي کرښي | 52 |
| پوخ نرخ | 53 |
| څه يې کوم | 54 |
| پاينات | 55 |
| د هستۍ شرط | 55 |
| جګه غاړه | 55 |
| رجا | 56 |
| آخر ولي؟ | 56 |
| آغم ځپلو ! | 56 |
| واقعي مسؤل | 57 |
| پښتانه | 58 |
| بې مهره ساحل | 59 |
| ورکه هديره | 60 |
| خزان پسرلی | 61 |
| مهاجرت | 63 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړۍ خبري

په دې کوچنوټې مجموعه کې زما هغه اشعار راغونډ دي چې زیاتره برخه یې د ۱۳۲۲ش - ۱۳۲۸ش کلونو په دوران کې په کابل یا کندهار کې ویل سوي دي. دا کلونه له تأثیره ډک کلونه وه. په هیواد کې حوادث دومره تراژیک او خواشینوونکي وو چې د ډېر زمخت احساس خاوند یې لا هم ځوراوه. له بلې خوا زما ډېر تیروني دوستان او یاران را څخه لیري سوي او پر پردیو هیوادو یې د هجرت ترخې او اوږدې شپې تېرولې او زه په وطن کې تک تنها اوسېدلم. نه مې له چا سره وړ ووت او نه مې وینه ور سره ګډېده. مرګونه، خرابۍ، د حوادثو تاثر او د تنهایي حالت هغه عوامل وو چې زما د اتلسو کالو بیده شعري احساس یې را ویښ کړ. شعر زما د یوازیتوب ملګری سو او د زړه سوده. باید ووایم چې ما په ۱۳۴۴ش کال، هغه وخت چې په ښوونځی کې مې درس لووست، په شعر ویلو پیل وکړ. د کندهار په سرکاري اخبار (طلوع افغان) کې مې یو، نیم شعرونه چاپ هم سول. (وګورئ د ۱۳۴۴ش کال د حوت د درویشتمي نېټې ګڼه). خو نه پوهېږم چې ولې مې یو دم شعري دنیا ته شا سوه او پوره اتلس کاله مې بیا هیڅ و نه ویل.

طبیعي ده چې د دې شعرو د خپرېدو زمینه ما ته دننه په هیواد کې نه وه میسره. شعر به مې وکېښ، ځینو کسانو ته به مې ولووست او له ځانه سره به مې خوندي کړ. د څه مودې راهسې چې له هیواده لیرې د هجرت شپې او ورځې تېروم، په دې فکر کې سوم چې خپلې خورې ورې پاڼې سره راغونډې او طبقه بندي کړم او دا دئ نن مې یوه برخه سره ترتیب کړه.

زه پر دې خبره معترف یم چې د دې مجموعې په شعرونو کې لازمه رنګیني نسته. دا به زما د خامۍ نتیجه وي. ځکه شعر پر فکري آمادګۍ او استعداد سربېره، مشق او ممارثت هم غواړي چې زه دا نیمګړتیا په ځان کې په پوره عمق سره احساسوم. وایي چې: "پیاز دي وي، په نیاز دي وي" په همدې خاطر تاسي د مجموعې لوستلو ته رابولم. زما په ګومان په یو ځل لوستلو ارزي.

محمد معصوم هوتک
یونیورسیټي روډ - ګلشن اقبال - کراچي
د مېزان ۲۲مه، ۱۳۶۹ش = د اکتوبر ۱۴مه، ۱۹۹۰ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لويه خدايه !

خدايه ! عقل و ماغــــــــزه مي و خوږمنـــو ته دارو کړې
دا کمزورئ هډ و لېچ مـــي وخـــدمت و تـــه چمتـــو کـــړې
په اومړي تار پتلېس بدن مــــــــي ستا څه مړوچ غوښتئ
د هيواد د اورنۍ مينــــــي نفس را پکښي پـــــــو کړې
د گناه ثوری مي سپک کړې د بدۍ قـــــــدرت را مه کړې
خوړين زړگی مي د نېکۍ په ټينگ سپڼسي باندي رفو کړې
ړندې سترگي مــــي په نور د معرفت کـــــړې را روښانه
بصارت مي بصيرت کړې ټپه لار راته چارسو کـــــــــړې
دا بيوزلي دا خوار ځواکي چــــي محتاج ستا د کــــرم دي
پر جابـــــــرو و سرکښو باندي خــــــدايه ته کابو کړې
فرعونان د زمانـــــــې چي د قدرت په نشــــــو مست دي
د خپل قهر و غضب په توپانــــــي سيند کي لاهـــو کړې
کاهنان چي مــــــو د بخت د گرځېدو فالــــــونه گوري
طلسم يې مات، کـــوډې باطلي، خام يې سحر و جادو کړې
چي به زموږ و وور بــــــــــورجل ته په کړو سترگو کاته کا
زما معصـــوم آه پـــه پسې کړې (مازيگر يې کور جارو کړې)

کابل - ۱۳۶۴ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناورين

سخري دي، کرکنډي دي، غـرگي دي او کودري دي
غرونه دي، لاښـــونه دي او لـــــوړي و ژوري دي
دښت دئ، دامانه ده، تـــوره دربـــه ده لار ورکه ده
ژرگي دي، اغزي دي او کــــــــروړي زوروري دي
دوبی دئ، اهاړ دئ، مځکه سره وربانــدي شپه مو ده
اور دئ، سرې لمبې دي، سرې سکروټې دي بخري دي
يخ دئ، بدن لخ دئ، وچ هـــډونه سره لـــــوې ده
ژمی دئ، باران دئ يا د واوري سپيـــن ځپـــري دي
تگ دئ، حرکت دئ، گـــــرداونه دي، ځرخونه دي
کږي دي باريږي د هـــــــــر چا پر څټ تَوري دي
وېر دئ و ناوريـــن دئ و افســـــون دئ و ژړاوي دي
نه دي پر کراره که ځـــــوانان دي که سپين ږيري دي
ځنگ ته يې غيـــــرت دئ، حميت دئ، سرښندنه ده
خاوره ده هيـــــواد دئ، د ساتني يې خبـــري دي
سر دئ، ککـــرۍ دي، اندامـــونه دي، لاښـــونه دي
ميندي پر را ټولـــــي پر شکولي يـــــې غومبري دي
شخول دئ، کړکچو دئ، سره غوغا ده، توري کرږي دي
پاتـــــه نازولي پـــــر ميدان دي يـــــو وزري دي
منځ کي يې حساس معصوم ولاړ په اند ښېنو کي ډوب
شعر يې دئ، قلـــم يې دئ د غــــم سوي سندري دي

کابل - ۱۳۶۳ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېځايه توقع

دوی مستي را څخه غواړي په شعرو و په بيتو کي
ما کلونه دي تېر کړي په غمو په اند ښنو کي
وايي پاڅه ونځېږه، رندانه لاره درواخله
څو به خورېږې د زړګي وينې د شرابو په جامو کي
څو به سر پر زنګانه يې تحير به دي وي رشه
څو به ناست يې بې مونسه بې غمخوره په حجرو کي
راسه راسه بزم تود دئ عيش و نوش شعار د ورځې
خوښ خوښ ګرځه، غورځه پرځه په ګډا په اتڼو کي
څو:
زه به څرنګه هوس کړم چي مي ورور په وينو لامبي
زه به څرنګه مستي کړم چي ماتم وي په کورو کي
زه به څرنګه خندا کړم چي ياران په وينو ژاړي
زه به څرنګه خوښي کړم چي اولس ډوب وي غمو کي
زما دي زهر و زقوم سي کتلمې و نعمتونه
چي مي څنګ ته بوري وراري وي له لوږي په نارو کي
چي اشنا په شوا خون وي، هغه يې مات زړه يې محزون وي
تو لعنت دي زما پر پت سي، که به غورځم په ښارو کي
پربږدئ پربږدئ معصوم پربږدئ تاسي هسي و دی داسي
بورا خوښه وي پر ګلو، پتڼ خوښ وي په لمبو کي

کابل - ۱۳۶۴ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عبرت

د هلکو په شان ناست دي جوړوي له خاورو باغ
په اوبو به چا ليدلئ وي بل سوئ يو څراغ
د مېړه به قول، قول، ژبه، ژبه، هوډ بې هوډ و
بور دي مات سه بې غيرته ! لوی سړی وايې دروا‌غ
ها چي لافي يې د عشق کړې، تاسي وينئ چي نن څه کړي
پر مرداره باندي جنګ دئ، تور يې مخ لکه د زاغ
خدايه نه دي وای هست کړئ، يا دي نه وای پوهولئ
يا په دوا‌ړو سترګو ړوند وای، راته يو وای دښت و راغ
ابتلا ده راته پېښه، لوی ميدان د امتحان دئ
بُرد و باخت يې معلوم نه دي، سترګي سرې زړګی مي داغ
يا خو زما ماغزه خراب دي، يا له ده څخه لار ورکه
يا به بل مکر ترمنځ وي، زموږ به نه رسي دماغ
اې معصومه پرېشاني دي پيلامه د خوښۍ بوله
تور سکاره دي ما ليدلي، سرې سکروټي پر اوجاغ

کابل - ۱۳۶۳ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آ ښکلې کندهاره

دروارې ســـــم، درواري ســــــم آزمورږ ښکلـــــــې کندهاره
آاشـــــــرفه د ښـــــارونو، آنامــــــداره آتاجـــــــداره !

++++

ستـــــــــا په خاوره کي اکسيـــــر و، د ړندو سترګو توتيا وه
ستـــــــــا اوبه آب حيـــات وې، هر يو ځاځکی دي شفـــا وه
هـــــــــره پاڼه دي زرپـــانه، هــــــره ترخـــه کېميا بوټـــی
هــــــــره تيـــږه دي عقيق وه، هــــره پرښـــه دي خـــارا وه
هـــــــــر فاتح دملتونو، په ګــــــــونډو ستـــــــا و همت ته
هـــــــــر غاصب د ثـــــروتونو، تاته پړ، ماتي پخــــــوا وه
تا روزلي اتـــــــلان وه، تا روزلـــــي شنــــــه زمريــان وه
هنګــــــــامه د فضيلت دي، خپـــــره سوې شا و خــــــوا وه
چا د وېــــر ماتمکده کـــــړې؟ چا په وينـــــــو اغشته کړې؟
چــــــــا د خاورو کنډواله کړې؟ چـــــا دي ژوند کړئ ناکراره
دروارې ســــــم، درواري ســــــم آزمورږ ښکلـــــــې کندهاره
آاشـــــــرفه د ښـــــارونو، آنامــــــداره آتاجـــــــداره !

++++

د ميــــــــرويس مېنه ده ړنـــــــګه، د احمد کور تش خالي دئ
حجــــــــــرې د فضل تـــــوري، ظلمت بانـــــدې طـــاري دئ
د قيطـــــــول ځوکه چي سپـــــــر و، د نادر د سپـــــــرو مخ ته
په ګوليو ربښـــــــکي ربښـــــکي، رود د وينو ترې جـــاري دئ
د مانجــــــــې جرګې دې څه سوې، کوکــــران ولي خاموش دئ
د شېر سرخ فيصلې ماتــــي، پر زړګي مـــي داغ کــــاري دئ
ها مـــــانۍ د نارنج څــــــه سوه؟ ها محفــــــل د ادب چيــرې؟
تغــــــــر تول محضر سپېــــــــره هم د فاضل کنـــــدهاري[1] دئ
دا شـــــــامت د کـــــوم اسي و، دا تنـــدی د کوم ترېنګلـــــــي
چي سمسور و شنـــــه باغونه دي ســــول ډک له خنډ و خــــاره

[1] د علامه عبدالحی حبيبي مريني ته اشاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درواري ســـم، درواري ســــم آزموږ ښکلــــې کندهاره
آ اشــــــرفه د ښـــارونو، آ نامــــداره آ تاجـــــداره !

++++

ستـــــــا مانۍ و ستــــــا قصرونه، ستا وياړلي عظمتونه
ستـــــــا دښتونه ستـــــــا رغونه، له ميوو څه ډک باغونه
ستـــــــا جادې ستا سړکونه، ستــــــا کوڅې ستا فصيلونه
ستـــــــا قريې ستا محلونه، لــــويې لارې او واټــــــونه
ستـــــــا ځوانان و ستا مېړونه، لـــــه غيرته ډک يې زړونــه
ستـــــــا مشران کلک يې هډونه، لـــــه هيبته ډک رغـــونه
ستـــــــا قومونه اولسونه، ستـــــــا له وياړه ډک نســــلونه
د نا اهلو په لاس ورک ســـول، مات او ګوډ شــــل يې هډونه
تـــــه د چا دسترګو خار وې، چې نظـــــر يې ستا هستي کړه
خدای دې ټپ په سترګو ړوند کړي، مور دې بوره سې خور وراره
درواري ســـم، درواري ســــم آزموږ ښکلــــې کندهاره
آ اشــــــرفه د ښـــارونو، آ نامــــداره آ تاجـــــداره !

++++

آ نيـــازمنـو آغمخـــورو آ سپيــن ږيـــرو آ ځـــوانــانــــو !
آ غښتـلـــو مېـــړنيـــو آ دوستـــانـــو عـــزيـــزانـــو !
آ دننـــــــګ و غيـــــرت نسله، د بابا د کــــــور وارثـــو
لـــــــه دې کور څخه اور مــــړ کړئ، د زړه سرو آ زلميانو !
نازولـــــو تې ناز ورکــــړئ، کړېـــدلې دلاســـــا کړئ
د دښمـــــن کور يـــــې خراب کئ، آ د رزم اتـــــــلانو !
د کــــــــونډيانو غـــم يې وخورئ، يتيمانو تـې ډاډ ورکړئ
دا نغـــــرى به بيرته جوړ ســـــي، په همت د باتـــــورانو
هــــلئ هـــــلئ ژرسئ ژر سئ، دا کـــورګى بيرتـه ودان کړئ
عظمت يــــې اعاده کــــــړئ، ور روښـــــانه يـې کئ لاره
درواري ســـم، درواري ســــم آزموږ ښکلــــې کندهاره
آ اشــــــرفه د ښـــارونو، آ نامــــداره آ تاجـــــداره !

ده خواجه - کندهار - ۱۳۲۴ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ارذل المخلوقات

په وراني کي قهـرمـــان دئ
په عمران کي دئ ناسيــــال

د دنيا خوبي پـــه ده کښـــي
په خروار کي يـــــو مثقـال

و پيسو ته يې نينگلـــــــي
ډکوي خورجيــــــن جـوال

نــړوی يـــې ســـوځـــوي يې
تمـــددن د هــــزار ســــال

لاس يې سور په وينـــو لـږند
کړي د سولي استــــــدلال

د همنوع وينــــــــو ته تږی
وي په مرگ باندي خوشحـال

د خپل ورور په وينو لامبــي
دا يې حال دا يې احـــــوال

نه يې زړه سوړ ســـو په ژوبله
نه يې وېـــــــــره له وبال

نه سړه سوځي پر کونــــــډو
نه پـــر آل نـــــي پـــر عيال

که بې وســــــه او ذليـــــل و
بې غيرت وي غــــــوره مال

د ناکس په پښو کي پروت وي
چاپلوسي يـــــــــې بې مثال

د قدرت پر خره چي سپــور سو
نو فرعـــون دی يا دجــــال

نه يې خپل ماضي پـــه ياد وي
نه يې ډار لـــــــه استقبــــال

نه مسلک نـــه يـــې ايمان وي
نه يـــــې شـــرم په اعمــــال

هی! افسوس د انسان نوم دئ
چي انسان وي پرې پايمــــال

کابل - ۱۳۷۴ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سید جمال الدین افغاني قبر ته

په کانون کـــې د پوهنـــې، يـوه دنګه مقبـــره ده
د افغـــــان د تاریخ پاڼــه، هدیره د علامــــــه ده
یا، خطا سومــه غلط ســوم، هدیره خو وي د مړو
علامه نه مـــري ژوندی وي، دا د تيـــږي نوشته ده
دا محضـــر د ها سیـــد دئ، چي فیضوني رسېدلي
که لنـدن و که پاریس،مصـر و ایــران که ترکیــه ده
آسیده !آپښتــــــــــونه ! ستا یادونه به همېش وي
ستا پیغـــــــام د اولسونو، د راتلونکي برنامه ده
ستا په ګوتو هره کرښه، یو کتاب د معــــــرفت دئ
ستا د خولې هره خبـــــــره، نن یې ګورو وجیزه ده
ته حامي وې د بېـــــوزلــو، ته ناجي د ملتــو وې
و خپل کور نه دي نظر دئ، چي پر سر یې څه جګړه ده
اهریمن سترګي ســـرې کړې، نړوي یې سوځوي یې
د کونړ له سینده جوړه، د سرو وینــــــو نربده ده
کندهار ټوله ګړوب سوئ، د هیلمند د وینو بوی ځي
د پنجشیـــــــــــر هره ډبره مو په وینو تکه سره ده
د هرات و منارو ته، د سرو وینـــــــو زیني جوړي
طالبان ټوله سیاه پوش دي کنډواله یې مدرســـه ده
د سرکښو طاغوتیانو په لاس ستا کورګی خراب سو
هره پـولـــه د وطن دي، د شهیـــــد و هدیـــره ده
د وطن ملالــــــه پېغله، د واده پـــــر تخت شهیده
سینګار سوې کفن پوشه، ته به وایـــــې چي بیده ده
د وطن ځوانان دي ټوله، د ایثار پر مورچل ناست دي
سرښندني په سیالۍ دي جوړه کړې هنګامــــــه ده
خو ستا روح دي تل آرام وي، اطمنان به دومره درکړم
پر جابــــرو باندي هـــــر ځای، د زلمیـــو غلبه ده

کابل - ۱۳۶۴ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اشنا یاد[2]

زړګیه ! په لبمــو دي، ځان سوځلــئ دئ که نه
په غم کي د اشنـــا دي، کړولـــــئ دئ که نه
د حسن پـــه بازار کي دي یوسف ګدایي ګر کړ
تا کله پــه آینه کـــــي ځان کتلــــئ دئ که نه
د ټک دانـــه راوختل په کومي د شاعـــــر کي
طبیبه تا ناسور داسي لیـــــــــدلئ دئ که نه
د ګل پر ځای اغزی سو د ګلاب پر ځای زقوم دئ
پېچک پــــــر چنبېلي راخــرخېدلئ دئ که نه
صیاده ! پرون ټــول بلبلان ولاړل ستا لـه وهمه
تا بیا نن د تــزویر دام غـــوړولئ دئ کـــــه نه
له ګله لطافت ولاړ او له جامــــــــه مستي ولاړه
له کومه چي (بارو ) په سفــــــــر تللئ دئ که نه
د شپې ژړا دي زېری د وصال ګڼه معصـــــومه
شبنم دي پر ګلاب سهار لیــــــدلئ دئ که نه

کابل - ۱۳۶۵ش

---

[2] د **۱۳۶۵**ش کال د کوچني اختر ورځي وې. د کابل ښار په یو کور کي د (خانونده های نو به قدرت رسیده) څو تنه راغونډ وو او د ساز و سرود محفل یې جوړ کړئ و. زه د یوه بېګانه بندي د خلاصون له پاره لالهانده ګرځېدلم. یو چا د دغه کور پته راکړه او د عریضې وړاندي کولو له پاره یې همدا موقع مناسبه وبلل. کور ته ورغلم. سندرغاړي زما د خالپوځو د ملګري (جهاني) یو شعر په ډېر حزین مقام وایه. ما سمدلاسه د خپل اشنا په یاد، د ده د شعر په اقتفاء پورتنی نظم په حافظه کي ووایه. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زیږه تابلو

څوک په فکر د خپل سر دي، چا ته غم دي اولادونه
چا ته خپله هستي اور سوه، پکښې بايلودل سرونه
څوک په فکر د ثروت دي، ټولوي يې غونډوي يې
تر مسلک ورته تېرېږي، پکښې ږدي خپل ايمانونه
څوک د خپل مقام پاينښت ته، نارواوي روا بولي
نصب العين يې بس همدا وي: زما دي عيش وي عشرتونه
څوک د تېرجا و جلال په تمه ناست انتظار باسي
و کسات و انتقام ته جوړوي اوږده پلانونه
ځينو لار ده ورکه کړې، بې هدفه رهي سوي
نن شپه دلته سبا هلته، نامعلوم لور ته مزلونه
چا بوړی دی راسته کړی، ډزهار دئ ټکهار دئ
د خورلڼو په مرگ وياړي، تاووی ورته برېتونه
چا د حق تر بيرغ لاندي، څه نادودي هم و نه کړې
که دا ټولي درته ليکم، ترې به جوړ سي کتابونه
څوک حيران و اوتر ناست دي، د زمان و تماشو ته
سترگي هيښي راختلي، په شپو شپو وهي چورتونه
نه يې عقل په رسېږي، نه يې فکر ملگرى کا
د ماشوم په شان اخيستى، گرداورد يې خوري څرخونه
څوک بيا خوښ په خريږي دي، د عمرو ارمان يې وخوت
ښرموښ څه غواړي له خدايه! باد، سېلۍ او بارانونه
يو منصف و يو مصلح و يو غمخور و زړه سواند نسته
چي د چا پر سر لاس تېر کړي، د چا مات کړي ورمېږونه
دا ټونگونه د دښمن دي، که نه خپل خو داسي نه کړي
دا چي ورانه مو بازي ده، بېگانه پکښې لاسونه

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کريږي

مينـــه راتـــه اور ده، په سوځېــــږمه کړېـــږمه
ژونـــد راته زنـــدان دئ، زهيـــرېږمه ځــــورېږمه
ما ويله سرې لمبـــــــې يوازې زما پر سر دي بل
هر لور ته چــــــي ولاړ سمه په پوړندو کي خېژمه
ګوره زمانې ته څه نخرې کوې، څه لوبې کــــــړې
کله ورته شين د ژړا ولاړ سم، ګاه خنـــــــدېږمه
مکر د عالم مي کله داسي لېـــــــونی کړي چي:
مخ مي سي پر بوښو ، کــــريږي پيل کړمه ژړېږمه
ږډ ږډ ورته ګــــــوري پر لمن باندي لمبې څرخي
نور خلک ړانـــــده دي او که زه نه په پوهېـــــږمه
لاس واخله ناتـــرسه، څه کانې وې چي دي ونه کړې
ستا حيـــــا که نسته، آخر زه بلا شرمېـــــــږمه
خپل باريک احساس و حساس مغز ته چي وګــورم
آفــــــرين پر ما ! چي لا ژوندی يـــم تېرېـــــږمه
شعـــر مشغولا ده، که نه زه و شاعـــــري چيري؟
څه نسبت زما و د قلــــــم، خوشي ويېـــــــږمه
ښې شېبې د ژوند مي په ناورين په شواخون کي دي
ځکه زه معصوم چي شپـــــــه تيرېږي لا نښېـــږمه

کابل- ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډوبه جاله

مکـــــر شعار د زمان، ټګـی مضمـــــــون د دوران
درواغ خاصـــــه د مَړو ، فریـب خصــــلت د انسان
د واعظ ځای نیـــــولئ، دئ اهریمـن و شیـــــطان
د ظلماتـــــــو پــــردې، پوښلــــئ مـخ د اسمان
چیه غـــــوبل دئ روان، جالـــــه چپه کړه توپان
اوبو اخستي کـــــوچنیان، آه و نالـه د افغــــــان
سراسر عمر هجران، یــــم د وصـال په ارمـــــان
د زړه په وینو ګذران، ګـوره چي څنــګه به ســي؟

++++

څوک لــــــه نېستیه فـــــرار، لـه ژونده سوله بېزار
څوک له مستیه جـــــرار، هستـي يې من و خــروار
څوک د بمبارد لـــــه بیـــري، منـډي سرونـه په غار
څوک د چپاو لــــه وهمه، کـاږي د مـــــرګ انتظار
چاته ښارونه اور سول، مـــــخ پر صحرا خوار و زار
و چا ته کلی دوږخ، سیــــــده را دروســــي پر ښـار
څوک د جګړې پر ډګر، ځوانیمـــــرګی تــه تیــــــار
سول قرباني و نثار، ګوره ! چي څنـــــګه به ســي ؟

++++

ارام په کور کــــي وي ناست، یـواري شخول سي ژړا
کور ته هاوان ولـــــــوېدئ، کـــورنۍ ســوله تباه
دا غـــم لا نـــــه وي تمام، بیا چوکچوکه ســـي غوغا
پر پلاني متان پټاو ســو ، کوچنیان يې سول نیمه خوا
ناڅاپه بیا سي ناره، لانــــــدي تر ټانک ســـــو بابا
لنګ و لاښ پروت پر سړک، ریچي ریچي يې سوه ملا
دربی درزی د تــــــوپو ، د ســـــرو ګولیـــو بربښنا
د ټولو غوږ په هوا ، ګوره ! چي څنـــــــګه به سي ؟

++++

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکني ورونـــــــه اخته، يو د بل کــور يې کړ چور
دښمن نوکان جنگــــوي، ورتــــــه ولاړ په غرور
خوارېږ ياران د کلــــو، چي گـــــډ يې غم و سرور
يو د بل وينو ته ناست، غــــــوښي شکوي په امبور
ټپ چي پر بدو واوړي، ور څخـــه جوړ سي ناســـور
علاج يې سخت و مشکل، د ناروغ ژوند پـــه ضـــرور
د کلاوي ســـر دئ ورک، تللئ له ستــــرگو څه نور
راباندي خاندي تـــربور، گوره ! چي څنـــگه به سي ؟

++++

زما احســــــــاس و ماتم، زما اندازه و والـــــم
زما برداشت و فکــــــر، زما ســـوې مينه و غم
زما صداقت و رشتيــــا ، ځـــاى پکښي نسته د چم
زما سپېڅلـــــي دنيـــا او دا چمبـــازه عالـــَم
نې تحمل راســــــره، نه يــــې طاقت نه يې زغم
نه ښکاره کيـــږي خلکـــو ، ورته عاجــز دئ قلـــم
کوټلي وينــــي د زړه، راځي تر خـــوله و ترنـــم
گريوان مي لوند دئ په نم، گوره ! چي څنگه به سي ؟

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د میني ترون

و يوې نغمې ته ناځي باده نوش زاهدان دواړه
د يوه هدف و لور ته ځي هندو مسلمان دواړه
اور د ميني چي پر بل سي يو د سترګو رپ کافي دئ
چي مکوټ سي پکښي ټوله دا دنيا ها جهان دواړه
ازموينه د عشق ګرانه احتياط ډېر ورلره بويه
ډېرو اېښئ پر دې لاره دئ خپل دين و ايمان دواړه
ملامت نه يمه خلکو خپله مينه راته اور سوه
خير که ليري رانه ګرزي بېګانه و خپلوان دواړه
که هر څو يم بخت کړلئ منتظر يم ستا و لور ته
د باران اوبو ته ترږي وي اغزي و ګلان دواړه
تا پرون کړې د زهد لافي نن ملنګ د ميخانې سوې
مخ دي تور پزه دي پرې کړه پرېږده وعظ و بيان دواړه
مينوشي د تقوا نخښه پايکوبي د قبول شرط دئ
د کوثر پر څاه اوبيږي دوړخيان جنتيان دواړه
که د ميني ترون نه وای د معصوم په حساس زړه کي
لا د مخه بې سوځلي وای قلم و جزدان دواړه

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې خونده اختر

څه له شنـــوخته ډک اختر دئ
نې مزې سته نـــې خوندونه
څه بې خـــونده شپې و ورځې
څه له ګرومه ډک وختـــــونه
نه مستي ستــــــه د زلميانو
نه خوښــــــي سته نه سازونه
نه سرخي سته د نکريځــــــو
تش لړلــــــي مو لاســـونه

++++

زما ياديــــږي زما ارمان دئ
کندهار ښــــه اختـــــرونه
ښــــې لونګۍ، ښه لباسونه
نورانــــي، ښکلــي مخـــونه
د عيدګاه ماجت لمونځـــونه
تکبيـــــرونه، دورودونــــه
د ســـــړيو سېلابـــــونه
په لکـــونو اولســــــونه
زما ياديږي زما ارمــــان دئ
لـــــوی دالان[3] او مجلسونه
ها درانه درانه سپين ږيـــري
ها لـه مهـــــره ډک زړونه
ها د ميني سترې مه ســــې
ها د غيـــــرې روغبړونه
دا اسمان دی بـــــدل سوئ؟
که اليش غرونـه رغــــونه؟
که دا مځـــــکه هغه نه ده؟

[3] لوی دالان په کندهار کې د ملا ګلداد په کوڅه کې د حاجي محمد اکبر هوتک په کور کې دي. زموږ د کورنۍ لوی و کوچني به په غم و ښادي او اخترو کې په دغه دالان کې راغونډېدل. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که بدل دي دا دښتـــــــــونه؟
ولي دومـــــــره بې نوري ده؟
ولي دومره ډېر غمــــــــونه؟
ولي دومره افسون پروت دئ؟
ولي نستـــــه خوشال زړونه؟

++++

نو به ولي خوشالــــــــي وي؟
نو بـــــه ولـــي وي سـروزونه؟
په زرو ککــرۍ رغـــــــــړي
جوړ لـــــــه وينو څه رودونه
په زرو مينـدي ســـوې بوري
پر زړگـــــــــي د زوی غمونه
په سوو ناوي ســــــــر تـوري
ويــــــــــې نه کښل ارمانونه
په لکو عالـــــــــم فرار سول
ځنــــــــي پاته سول کورونه
په ســـــــــوو کلي چپه سول
تور ولاړ دي لـــــوی ښارونه
په زرو ځـــوانان نېستي سول
ورک يـــې مړي و لاښـــــونه
سمــه غر تړول هديـــــره سوه
ځو چي گــــــورې، دي قبرونه

++++

خدايه ! خلاص دغه اولس کړې
پر ارامه يې کـــــــــړې زړونه
خدايه ! مـــخ تور د پــردو کړې
خدايه ! بس کړې دا مرگــــونه
خدايه ! ټينگ را اتفاق کـــړې
د دښمن شنـــــډ کړې پلانونه

(آمين)

کابل - د کوچني اختر شپه - **۱۳۲۵**ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حتمي برى

آزما غيرتي و تاريخـــــــــــي قامه !
آزما پښتنــــــــــــي و افغاني قامه !
آد ننګ تو تو آد ميرويس بچـــــــو !
آد احمـــــــدشاه ابدالــــــــي قامه !
نن که دي پـــــــه خوا اوږده مزلونه دي
يا پــــــر تا حرام خــــــواره خوبونه دي
خوار نېستمن که ناست دي اولادونه دي
پاته يې ښوونځـــي و مکتبـــــــونه دي
شاړي دي پرتې مځکي باغــــــونه دي
ژوند دي ســــــرګردانه احتياجونه دي
يا دي پـــــــر پردو تـــــړو کمپونه دي
ستا پر ســـــــــروان تجـــارتونه دي
يا که کنډوالـــــــې دي نن کورونه دي
خير دئ، که جګړه ده که جنګـــــونه دي
آزما تاريخـــــي و غيـــــــرتي قامه !
آزما پښتنــــــي و افغانـــــــي قامـه !
خامخا تېــــــــريږي دا ترخــــې ورځې
پای ته به رسېـــــــږي دا اوږدې ورځې
بيا به دي هيـواد وي، اولســــــونه وي
مات به دي دښمـن تور بې مخونـــه وي
بيا به هنګامــــه ستا د بريــــــــــو وي
بيا به غــــــوړي ځونـــــي اتڼونـه وي
غرونه به مـو پټ په سپينـــــو واورو وي
ډک به په غاټـول ټوله دښتــــــــونه وي
سوړ ژمی به تېـــــــر وي، پسرلی به وي
هره خــــــوا به ورېــم وي، ګلـــــــونه وي
بيا به د اوښانـــــو کتارونـــــــــه وي
پلني به کـــــــــږدۍ بل به اورونه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېځي به راغښتـــــــي ابادۍ ته وي
بيا به همکاري وي اشـــــــرونه وي
بيا به د غښتلو جرګــې جوړي ســــي
نخښـــه به په وينو تړونــــــونه وي
بيا به شملې نېغي د زلميــــــــو وي
بيا به يــــــې د خيال کاږه برېتونه وي
رشک به د ښمنــــــان ستا په بريو وړي
بيا به راژوندي تېر عظمتـــــــونه وي
ښادي به ارواوي د نيکـــــونو ســـي
خوښ به په قبـــرو کي مو پلرونه ســـي
آزما تاريخــــــــي و غيرتــــي قامه !
آزما پښتنـــــــي و افغانــــــي قامه !
خامخا راتلونکـــــي دا وختـــونه دي
ما معصوم ليدلـــــــي دا خوبونه دي

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرموزه ولوله

نن مي بيا ولي خامـــوش فکر ژوندی سو
په ورو ورو يـــون مي بيا ولـــي ګړندی سو
يو مـــرمـــوزه ولـــوله ده کشـــوي مـــي
يو سرکښ احساس مي بيا د ښځي اغزی سو
ما تـــوبـــه وه د نصـــوح ورڅخه کښلـــي
د تقدير په حکـــــــم بيا عشق باښېری سو
و ميدان تـــه د جدال چـــي ور حاضر سوم
سقراط د خطابـــــــي پر وخت تـــوري سو
خو زما برخـــــه له ازلـــه وه لـــــړ کمه
حسادت د زمانـــي پر ســـــــرباری سو
نن رنځـــــــور يم د کلو ، پر ږدنو پروت يم
هډو پوست يـــــــمه طبيب راڅه پردی سو
له دنيا و ما فيها څخـــــه پرهېز ســـوم
تـــــول جهان راته د زهـــرو کټوری سو
زمانه ده بـــــي تميزه بـــي انصافـــــه
چي جانان چيني د خاورو کنـډولی ســـو
په سپين مخ و جګـــــه غاړه به ولاړ يــــم
که يو وخت د تور و سپين تر منځ سپيني سو
يو خوا مينه د هيواد بل لور هجــــــران دی
په دا منځ کي يې معصوم خوار راګردی ســو

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سرنوښت شېبه

د پامیر له لوړو څوکو د بابا له سر درو
د آمو له مسته روده، د هیلمند سیند له څپو
د پنجشېر له کوهستانه، له کونړه له خیبره
د بامیان له هسکي مېني، د پکتیا له لوړو غرو
د میرویس، احمد له قبره د روښان پیر له ټاټوبي
د کابل له شا و خوانه، د هرات له منارو
هاتفي ږغونه کیږي، اسماني کرږي دي پورته
آ پښتونه ! آافغانه ! وطن ساته له پردو
دا د هغه قام ټاټوبی، دا د هغه اولس خاوره
چي زمری یې له هیبته څه لړزیږي د ځنګلو
دا د هغه بابا کور دئ، د هغې توري بورجل دئ
چي ساتلئ یې په ګډه ننګ و پت د پښتنو
دا انګړ د هغې ناوي دغه تخت د هغي ښکلي
بدرګه چي یې ډولۍ وه د توپک په ګوزارو
دا هغه توپاني مېنه چي چنګېز یې سلامي کړ
د ګرګین غاښوني مات کړل خوله یې ډکه له ایرو
د نادر لیچي یې غوڅي و مغول ته یې ملک اور کړ
د فرنګ فاتح لښکر یې، په همت کړ پر ګونډو
له برنسه څه درس واخلئ، مکناټن هم در په یاد کئ
د برایډن کیسه مو نه ده، اورېدلې له پلرو ؟
عظمتونه ورته پاته له بابا څه په میراث دي
د غیرت درس دئ ورکړئ، مور په غېږ کي په شیدو
اوس هم هغه پښتانه دي، هم هغه توریالی قام دئ
اوس هم هغه قدرت پروت دئ، په موټو کي د زلمو
د هم هغه پلار اولاد دئ، د هم هغه نیکه نسل
پر هغو درو لوی سوئ، چي دوږخ و د دښنو
هم هغه نېغي شملې دي، هم هغه کاږه برېتونه
هم هغه دود و دستور دئ، هم هغه ټینګه پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم هغه د خیال توپک دئ، هم هغـــــه وسله ګېڼه ده
هم هغه د ننګ مـــــورچــــل دئ، بنیـ ډکه له نینو
د هم هغي ادې غېـــــږ ده، هم هغه ماشوم لوی سوئ
د غیرت و ننګ داستان يې، د زانګو للـــــو للــــو
نن جګړه د سرنوشت ده، نن شېبه د هست و نېست ده
فیصله یـــــــې ده په توره، په توپک و په تــــوپو
په جرګو مرکو نه سي، زور د تـــــوري ورښکاره کړه
د خوشحال بابا وصیت دئ، باندي تنـــګه کړه اورشو
ډېره سختـــــه ازموینــــــه پر دې قام ده نن راغلـــې
ډېري سختـــي شپې و ورځي دي تېـــــــریږي پر مړو
که مو لــږ څه لتـــي وکړه، شـــرم و پیټ به وي راپاته
د بابا ربـــــره به کل ســـــي د نامـــــــــردو په چړو
دورمئ درومئ پر مخ درومئ، تر شا مه ګـورئ زلمیو
د بري پاڼه مـــــــــو ثبت ده، د نــــــړۍ پـر تاریخـو

کابل – ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انجام

نه ملنگ د زيارتو سوم نه په مينه کي مجنون
نه پرسد نه ليوني سوم نه چادي نه افلاتون
نه مي ښه ورځ ده ليدلې نه آرام نه آسوده سوم
نه مي سوده د زړه کيږي شپه و ورځ يم ځگرخون
نه په فکر د اولاد يم نې د کور په غم ويشتلئ
نه د ځان نه د جهان سوم عجايب شاني ژوندون
نه پر لوړ ځم نه پر ځوړه نه پر ښی ځم او نه کيڼ ته
پر لمن مي ميخ وهلی دايمي يم پر سکون
نه قادر يم پر خبرو نه مي وس د چوپېدو سته
نه مختار يم نه مجبور يم څه کانې دي د جنون
نه د سياله سره سيال سوم نه له غيرو سره غير
نه مي خپل آن دی منلی نه قانع سوم په مضمون
په خپلوي کي بيگانه يم په پرديو کي آشنا سوم
له اغيارو سره دوست سوم له دوستانو مي بېلتون
نه د سر سوم نه د پای سوم نه د لر يم نه د بر يم
تر آغاز مي انجام مخ ته سر چپه گرزي گردون
نه روا نه ناروا سته په مذهب کي د رندانو
تقدس د دود دستور کړمه سرکښه له قانون
نه په سپينو ورگډېږم نه د تورو يم ملگری
يو معصوم شاني موجود يم پاک سپېڅلی و پښتون

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لبريزه کاسه

لا تر څو به دي پر بدو ، څپېړي درغوړوم
لا تر څو به تجاهل کړم، ځان به نه پوهوم
توپاني ميني مجبور کړم، فريادي چيغي مي وکړې
سېلابي اوښکي مي توی کړې، غمجن زړه په سړوم
لباسي دنيا په تنګ کړم، مصنوعي خندا مي نه زده
د ژړا پر ځای د زړه کوټلي ويني تويوم
طاعوني رنځ دی راپوري، د علاج واری يې تېر دئ
چي طبيب خبله رنځور وي، نور به څه ګيله کوم
نفساني خوا ده غالبه، روحاني ترون دئ پاته
نوراني ډېوه خاموشه، پر تيارو شپې تېروم
ايماني جذبه په کار ده، وجداني عمل لازم دئ
شيطاني که وه کارونه، زې په سر اور لګوم
فرعوني نشې کړئ ماتي، طاغوتي پلانونه شنډ کړئ
بله لار نسته زلميو ، خپلي غاړي خلاصوم
فرهادي تېشه راواخلئ، پر سر ورکړئ ګوزارونه
شيرين ژوند يې هلاهل کړئ، زه خپل زړه په يخوم
حوادثو يو اخيستي، لوټه ړدم ګام پر ايږدمه
ښه پوهېږمه معصومه، هسي ځان په غولوم

کابل – ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افتضاح[4]

څه مفتضح مراســـم، څه مبتــذل نطقـــونه
څه مصنوعـــي خوشحالۍ، څـــه د ريا ډولونه
ټول يې پـــه زور راوستي، پر ټولو حکم سوئ
ټول زړه نازړه دي رهي، پر خولو يې دي قلفـونه
که څوک چکچکي کوي، او يا شيندي ګلـــونه
په خپلو کړو شرمېـــږي، پټوي تور مخـــونه
پر څه ګلونه شينـــدئ؟ پر څه ډولـــونه وهئ؟
د چا له پاره غـــورځئ؟ چاته رقصـــونه کوئ؟
لکه چي هېري مو کړې، ها برندي برندي ځوانۍ
ها په قبرو کي پرتـــې، ها ستړي ستړي هستۍ
لکه چي هېري مو کـړې، ها د شهيدو جنـــډې
ها په لکو قربانـــۍ، نـه هېرېدونکـــي بدۍ
لکه چي هېري مو کـــړې، ها پـه هفتو بمبارۍ
ها په زرو ککـــرۍ، هغـه د مـــړو غـــونډۍ
لکه چي هېري مو کړې، د ســره لښکر بې رحمۍ
د سپينو ورځو ډارې، په نيمـو شپو کـــي غدۍ
لکه چي هېري مو کړې، ها پـه کلـــونو سختۍ
هغه د غاړو زنـــدۍ، هغـه د پښـــو اتکړۍ
لکه چي هېري مو کـــړې، هــا سر پر سر تلاښۍ
ژوبله و مرګ و ورانۍ، يا د دښمـــن زور زياتۍ

---

[4] د ۱۳۶۵ش کال د مېزان مياشت وه. د روسانو د ديپلوماتيک شيطانت په سلسله کي د روسي پوځ شپږ غونډه له کابله ووتل. د کابل واکدارانو د دغه ورځ د بدرګې! په خاطر ډېر مبتذل مراسم ترتيب کړي وه. په افغاني نجونو يې د روسانو په غاړه کي ګلان واچول. دا مراسم د هر خساس افغان په زړه کي د خنجر واری و. دغه شعر په هماغه وخت کي وويل سو. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه چي نه سوځيـــــږئ، پـه اسوېلو د کونـډو
يا مو پر سترګو پردې، او يـا هيڅ شی نه وينــئ
دا څه د پېټ خبــري، دا څــــه د شــرم کارونه؟
ولي مو هېري کــــړلې، د پلـــرو نېغــي بګړۍ
يو لږ څـــــه شرم په کار، د پلار د پتــه څخــه
ډار دئ په کار د تاريـــخ، لــه قضــاوتـه څخه

کابل – ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پولیگون دښت

د پــولیگـــون پر دښتــو
پــر خـــړو خـــړو تپــو
پر دغـــه لـــوړو غونډو
ماتـــه ښېـــرې ښکاريږي
زه انســـانان وینمـــه
ډېرې شناخته قـــــواري
ډېـــر اشنایان وینمـــه
ډېرې معصـــــومي ښځې
ډېر ډېر دوستان وینمـــه
ژيـــړې لـــوېدلــي زامي
ډنګـــر ډنګـــر مخـــونه
ډېـــرې بې خـــوبه جولې
په شکنجـــو کلوچ لاسونه
په بـرقـــو سوې ګوتـــې
په شـــوکـــو وچ هـــډونه
د بـــولدوزر په پنجـــو
پـــه ژوندون ښخ ســـرونه

++++

پـــر دې نامـــــرده ډګـــر
پـــــر دغه ارت میـــــدان
څومره سیني سوې غلبېل؟
څه ځیـــګرونه غار سول؟
څومـــــره تنـکي خیالونه
لـه هـوسـونـــو جـار سول
څه ښایستـــــه مخـــــونه
څه ښکلـي ښکلي ځوانــۍ
څومـــــره د خیال بربتونـه
څه دنګي دنګي هستـــــۍ
څه غیــــرتي ککـــــرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه جګـــي لـــوړي مـرۍ
د نامـــــردانـو پـــه لاس
د ظالمـــــــانـو په لاس
د مـــرګـــي غېږ ته ولاړې !

++++

اې زمـــا نازک زړګيــــه !
اې زما بـاريک احساسه !
څومـره بـــې مهره سولې؟
څومــــره زمخته سـولې؟
په چيغـــو چيغـــو ژاړه
ياد د يارانـو کـــــــوه
سرې کړه د سترګو کاسې
ياد د دوستانـــــو کـوه !

د پوليګون دښت - کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه دي دي په یاد

نه دي دي په یاد چي زما ملالـــــي د میوند پر دښت
سپر کړله سینه د گـــوره گانـــــو و گولیـــــو ته
تــوغ د آذادی یـــي لوړ اوچت رپانـــده وساتـــه
تېک نه ســو فرنگ زما د خورلڼــــو و بولیــــو ته

++++

نه دي دي په یاد چــــــي د احمد په ابدالــــی توره
لر و بر پښتـــــــون سو یـــو وجود په جنگیالی توره
یو ځای سو جیحـــــون و اباسین پـه توریالی توره
غوځـــــي یي کړې مراندي د دښمن په هوډیالی توره

++++

نه دي دي په یاد چي زما میرویس په پښتني عــــزم
گرگ یي له گرگانو ســـــره تېر تـــر اصفهـــان کړلو
شرنگ یي د تېرې توري لا اوس هم زما په غوږ کي دئ
حک یـــي پـــر ډبـره د آزاد ژوندون نښان کړلـــــو

++++

نه دي دي په یاد چـــي آزادي مـــي له حمیـــده څـــه
نوم د عدالت مـــي دئ زده کـــړی له فریــــده څـــه
ننگ و غیرت دواړه مـــي ترکیب د مـــور د پیو دئ
وینـــي د عظمت مـــــي فواري له هـــر وریده څـــه

++++

نه دي دي پـــه یاد چـــــي ستا سلف ما ځغلـولئ دئ
ما پـــه اکبــــــري مټ مکناټـــن را ځملولــــئ دئ
ما پــــر دغـــه مېنـــه د ایمل و دریـا خان پـــه یاد
څلـــی د ویـاړنـــي مـــي اوچت لـــوړ درولــــئ دئ

++++

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي دي په یاد چي ټانک يې ويلي په سوکانــو ســو[5]
بـــرم يې مسخره زموږ په تنکيـــو شازلميانــو ســو
قوم يې شرمنده سو ، خوږي سترگي لوړ کتای نــه سي
تن يې نوکــــــي نوکــــــي په غاښونو په نوکانو ســو

++++

نه دي دي په یاد چي ټوکي نه وي د زمـــريانــو ښکـار
تا لکه چـــي بند باله د خســـو زمـــوږ کلک حصـار
تا لکه چي تـــور باله د غـــــرو د عقابانـو کــــــور
تا لکه چي خوشـــي مسخـــره باله زموږ درونـد وقـار

++++

تل بـــه دي پـــه ياد وي د اولس د انتقـام لمبـــــي
دا د کنـــــدهار و د هــــــرات و د دانگـام لمبـــي
رېږدي به ماشوم ستا په زانگــو کي زما لــه نــومه څه
تل بــه دي پـــه ياد وي زمـــا د رزم د انجـام لمبـــي

ده خواجه - کندهار - ۱۳۲۵ش

---

[5] دغه ښکلی شاعرانه ترکيب د گران عبد الباري جهاني ايجاد دئ. زما هرگوره خوښ سو او دلته مي د تضمين په توگه راوړئ دئ. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څه پروا ده

زما د توريالي قام سر خروېي که پکښې نغښتې وي
ويني چي تويېږي څه پروا ده؟ تـــــــوی دي سي
جنګ د آزادۍ کـــي کــه ښارونه کنـــډواله سوله
خاوره يې زما سترګو ته توتيا ده، کــــوی دي سي
زوی مي ځوانيمرګ له خدايه غوښتی که بې ننګه و
جــګه کــه شمله پــرې د ابا وه، لـــــوی دي سي
زمــــوږ د آرزوګانــو وچ دښتونه چي خړوب نه کي
څه کړمه آمو؟ خوښه مــــــي دا ده، جـــوی دي سي
دوی د پت پـــه بيــه د ښايستـــو د غېږ لايق سوله
زما ځينــــي تـــوبـــه د نصوحا ده، دوی دي ســـي
غچ له زندګيــه کــړ معصــــوم د ميخانـــې ملنګ
روږد که په دې ځای سو، زما سلا ده خـــوی دې سي

کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شهيدانو چوک
# يا
# رنځور کندهار[6]

څه گناه ده د دې خلکو؟ چي گولۍ باندي اورېږي
څه خطا ده ځني سوې؟ چي په وينو کي لمبېږي

++++

څه گناه د دې ماشوم ده؟ شني خاوري لاندي باندي
بابا غواړي بابا نسته بابا سو تر خاورو لاندي
کله پورته ځي په ځغاسته، کله کښته کله وړاندي
کله ږغ وکي و مور ته، کله ژاړي کله خاندي
د مورلېچي يې مات سوي، پرې يې دي دزړگي مراندي
په حسرت د شوم راتلونکي، وهي چيغي وايي ساندي
څه گناه ده د دې خلکو؟ چي گولۍ باندي اورېږي
څه خطا ده ځني سوې؟ چي په وينو کي لمبېږي

++++

څه گناه د زوړ بوډا ده؟ په تن ستړی په زړه ستړی
زمانې په ژوند محکوم کړ، که نه وخت وای بايد مړی
د زوی کونډه سوه ور پاته، ستر و تر يې اولادونه
د گروب سوي دوکان مخته،هېښ پېښ ناست چورتونو وړی
نه يې ديد دسترگو پاته، نه يې سېک سته په لاسو کي
نه د بل د مزدورۍ دی، نه يې وس چي واخلي پړی
څه گناه ده د دې خلکو؟ چي گولۍ باندي اورېږي
څه خطا ده ځني سوې؟ چي په وينو کي لمبېږي

++++

---

[6] دا شعر د کندهار د شهيدانو د چوک (هرات دروازه) د بمباريو په خاطر ويل سوی دی. وايي چي د دې بمبارۍ په نتيجه کي دوه سوه جنازې پر اوږو واخستل سوې. (هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ګناه ده د دې پېغلــې؟ د خوښۍ ورځ يې غمګـــــې ســـو
ژړ پلـــــــــــــــوی د واده يې، د غمـــــونو تور تېکری سو
د ښادۍ د شپو سرود يې، د بمــــــــــو دربی درزی ســـــو
د اينـدکۍ پر ځای يې ګوره، د زخمــــي زړګي خرکـــــی سو
نې پوره سوې ارزوګـــــــــــاني، نه يـــــې وکښل ارمانونه
د وصال په لومړۍ شپه يې، ميــــړه مړ ســــو ترې پردی سو
څـــــــه ګناه ده د دې خلکو؟ چې ګولۍ بانـــــدې اورېږي
څه خطـــــــــا ده څني سوې؟ چې په وينو کــــې لمبېــــږي

++++

څه ګناه د دې اولس ده؟ ســــــرې سکروټـــــې دې پر اوري
خپله مېنه ورته اور سوه، چيـــري ولاړ سې پر کــــوم لوري
هديرې ســـولې په ډکـــــې، قبرکن نه په رسيـــــــــــــــږي
آفرين و دې تګا تــــــه، زړه يې نه چـــــــــــــوې لا ښوري
نه يې دلته دې څه پاته، نه يې هلتـــــــــــه ټېکاو کيــــږي
لا لهانده سرګردانـــــه، ګرځي هيستـــــــــــه دوري دوري
څـــــــه ګناه ده د دې خلکو؟ چې ګولۍ بانـــــدې اورېږي
څه خطـــــــــا ده څني سوې؟ چې په وينو کــــې لمبېــــږي

++++

که ګناه آزاد ژونـــــــدون وي، صدقه تر ګناهګار ســـــــــم
که د کور مينــه وي جــــــرم، د مجرم تر نامه جار ســـــــــم
که تعدی د قـام دوستــــــي وي، دې تعدی ته دې تيار ســـــم
که د ژبې په تـور تــــــور وي، له تورنه دې نثار ســـــــــم
که کړلــــي مـو په دې چـــــــــــــې، له پريو يــې ده کرکه
له دې کـــــــرکي دې قربان، زه په يو وار نه په څو وار ســـــم
څـــــــه ګناه ده د دې خلکو؟ چې ګولۍ بانـــــدې اورېږي
څه خطـــــــــا ده څني سوې؟ چې په وينو کــــې لمبېــــږي

کابل - ۱۳۲۵ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هيڅ مي باور نه و

هيڅ مي باور نه و چي يو وخت به زما مرام احساس
دومره اورنی سي چـــي په تاو بـــې سره لمبه سمه
نه مي لو ېده زړه ته چي يو وخت به زما د مغز پـــردې
ډکي له شعــــــرو سي په الهام بـــې لـــو لپـه سمه

++++

هيڅ مـــي باور نه و چـــي دا پوړندي به اور گرځي
گور به سي دښمن ته سوځند دښت د عرسات بـه سي
غوځـــي به تنـــې و ککــــــرۍ د ســـرکښانو وي
زموږ ماشوم به لوی سي، بت شکن د سومنات به سي

++++

هيڅ مـــي باور نه و چـــي دا کلکه پولادي پنجــره
ماتــه بــه پــه چاودو گـــوتـــو زما د ليونيو ســـي
ياد به مــــي ژوندی د ميړنيـــو نيکه گانو کــړي
نېغه به شمله زمــــوږ د کـــږو وږو بگـــړيـــو ســـي

++++

ما وې خدای خبر چي دا اوريځ به اميـــنـــدواره ســـي
لوی به کړي په گېډه کي د ننگ و د غيــــرت تخـــــم
و بـــــه اوروي د عظمتـــــــونـــــو اولنـــــی باران
شين به کړي زرغون به کـــړي د پت او د عـــزت تخم

++++

هيڅ مي باور نه و چي دا ځاځکـــي به رودونه ســـي
نه مي لو ېده زړه ته چي به مات زاړه طلسمونه ســـي
زه د بد بينۍ په افســـون دومره مشبوع ســـوئ يم
ما وې خدای خبـــر چي بـه راويښ دا اولسونه ســـي

++++

راسه نن يــــــې وگـــوره بابکـــه ننـــداري کــــوه
ستا د ملالــــــــۍ نکلونه خوشي افســــانې نه وې
ستا د ميړنيــــــــو اتــــلانــــــــو مستانـــــه ناري
خوشي بابـــولالــــــي نـــه وي، تشي ترانې نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



++++

نن هم په مغزو کي هغه شـــور هغه نشه خـــــوندي
نن هم په رگـــــــــو کي هغـــه مسته پښتنه وينه
نن هم په لاسو کي هغه سپک هغـــه مغزن قـــوت
نن هم پــــــه سينـــــو کي ليونـــۍ و رندانه مينه

++++

نه دي زموږ سرکښي ولـولـي د اپلپـــــــدو نه دي
نه دي زموږ رنگيني سرې غـــونچـــې د رژېدو نه دي
نه دي زموږ هوډجني قافلـــې د درېـــــــدو نه دي
نه دي زمـــــــوږ لرغوني تـــرانـــې د هېرېدو نه دي

خير خانه - کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترې خپه

ډېر مي د ښايست په تمه روڼي کړې شپې کـړلـــې
ډېر مي د خيالو په زمزمو شلنډې بيدې کــړلــــې
ډېر مي ستا د خوب په ليدو بلي شمعې مړې کړلې
ډېرې مي پر زړه باندي اوارې ستا کاڼې کړلــــې

++++

ځومره اورېدې مياشتې لنډ کلونه زما په برخــه دي
څومره سترې ساه اوږده مزلونه زما په بـــرخـه دي
څومره بې درمانه سخت رنځونه په ما پورې ســول
څومره کړاوونـــه زحمتـــونه زما پــــه برخـه دي

++++

نه يمه پولاد چـــې پـــه ســـوټک بــــه لا کلکېږمه
نه يمه الماس چـــې تــــر ښيښې به لا هـــم لـــوېږمه
ماتــــه په نصيب کــــې نيمــې برخــــه د آدم راغله
صرف (تر ګل نازک) يـــم چــې نولېـــږمه ژړېږمه

++++

مينه که په دومــــــره زغم پالې خو مبـــړنې په وي
ځان که سوځـــوې په حــــوادثــــو سپلنــې به وي
ژوند چې په دې بيه پېـــرودې چور لېونې بـــه وي
بل که په خبرو غـــــولــــوې، آخر کوچنې بـــه وي

++++

پرې مي ږده احساسه چې يو لږ څه خو هوسا سمــه
پرې مي ږدئ مرګونـــو چې د ژوند په تماشا سمــه
پرې مي ږدئ ژړاوو چـــې يو ځل خو په خندا سمــه
ګونــدي لـــه غمـــونــو له دردونـــو را جلا سمــه

++++

(c) ketabton.com: The Digital Library



گونـــدي په دې ستـــړو انداملـــو هم د مزله سمــه
گوندي په دې ورکو قافلــو کـــي لار پيدا کمــه[7]
گونـــدي په دې ړېــرو اسوېلــو کي د اميد غمــی
بېرته په لاس راســي و نـــړۍ تــې هويـــــدا کمــه

کابل - ۱۳۲۲ش

[7] کمه = کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کوثري څاڅکي

ولي چوپ يې زما زړګيه؟ پسرلی دئ نو بهار دئ
د غوټۍ د زفاف شپه ده، بخملی پالنګ هوار دئ
د شبنم کوثري څاڅکو د يخنيو ګناه پرېوله
ترحم ته يې نرګس لاس پر نامه سو، په وقار دئ
د شبو د عطر وربم، هوسۍ شوخه ميداني کړه
د چمن پر بخمل رغړي، هم بستريې ګل نګار دئ
و شهيد غاټول ته ګوره، سور کفنه راښکاره سو
د بهار په عرسات کي، د جنت په انتظار دئ
د ګلاب په اننګو کي، اغېزې د ميني ښکاري
بورا څکه ده بېتابه، و مچکوته يې تلوار دئ
شهامت د سروي ويني، په درست ژمي کي خم نه سوه
پر اوږو که يې هرڅو مره، پروت د واوري سنګين بار دئ
چي ناخوالي د ساړو او د يخنۍ يې وليدلې
د چمن غوني زيږه سول، تک شين واوښتئ په قار دئ
مبارک دی سه بلبله، د وصال ټاپی دي راغئ
د اغزيو پروا مه کړه، ګاوڼدی چي يې دلدار دئ
د خزان اهريمن راغئ، د ګل پښو ته په سجده سو
فرشتې د رحمت ناځي، آزادي چي يې شعار دئ
خوشحالي کوه معصومه، مسافر لالی به راسي
ما پر نېک شګون نيولئ، دا د نوي کال بهار دئ[8]

کابل - ۱۳۶۲ش

---

[8] دا شعر ما په کابل کي په داسي حال کي وواية چي د وطن او منطقې ټولو جرياناتو حکم کاوه چي هيواد کي به آرامي او ثبات راځي. خو وروستيو حوادثو نه يوازي (مسافر لالی را نه ووست) بلکي زه يې هم مسافر کړم. اوس دغه کرښې په کوئټه کي کاږم او د مهاجرت شپې تېروم. (هوتک) ۱۳۶۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توبه يې تر بد ترو

له قلم سره مي بيا سوله د زړه پټه خواله
بل مونس راسره نسته، تشومه ورته زړه
ما علاج کړ د دردونو د سکوت په درملونو
نتيجه يې سرچپه سوه، د زړه ټپ لا شوړېده
د تقدير اراده ګوره، څه عجب لوبه روانه
سره ګډ دوست و دښمن سوه، دښمن دوست و دوست دښنه
زرنګيو ته مو پام ستـه، څه کاني يې په موږ وکړه
د پښتون مينه ورانېږي، پخپل لاس د پښتانه
هم يې ويني تل توئېږي، هم يې کور ور کنډواله کړ
هم بدۍ سوې ورته پاته، هم يې لاه په وينو سره
هم مهجور پر هيوادو دئ، هم يې ګړوبي سوې کلاوي
وطنونه ټول په ډک سول، نابللي مېلمانه
هم يې هېره ترې ماضي سوه، هم تياره يې مستقبل سو
(پور پر غاړه مېړ مرداره) دی د مرګ په خوب بيده
ظواهر يې د خانۍ دي، خو محتاج د بل و لاس ته
نه له پلاره څه ورپاته، نه ورپاته له نيکه
روايت له نورو نه کړم، زه پخپله يې شاهد يم
چي زمونږ د انګړ ناوې، په پساله کي زنګېده
نه يې غم چېرته ليدلئ، نه يې وير چيرته کتلئ
د خوښيو بارانونه، شپه و ورځ پر اورېده
نن د زوی په غم غمجنه، د کونډتون په درد دردمنه
د خوښۍ ګدا تعويض سوه، د ماتم په څرخېده
لا لهانده سرګردانه، لار و ليکه ځني ورکه
حوادث باندي کوترم سول، مړه يې سوله ورته خپه
د تدبير واري يې تېر دئ، منتظر و تصادف ته
لا رويان د عقل ناست دي، له خندا څه ورته شنه
پر دا نورو مي غبطه سي، څه آرام ژوندون يې وکړ
پر تنديو يې زمونږ کښلي دي (په وينو لمبېده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جرس کړنگـــــــــى يـــــــې اورو ، خـو منزل ته نه رسېږو
چي اوښبه مــــــــو انايــــــي دئ، که مـــزلونه دي اوږده
خدايه ته مو سې پـــر زېرمه، عاقبت مــــو دي پــه خيروي
نن خـــــو خدايږو مـــــزه نستـــــــه، ټول خوارږه سوله ترخه
دا ارمان مــــــي راپـــوره کـــړې، چي دا کور بيا ودان گورم
د دې خــړو کوڅو مټ ســــي، د ښايستـــو ستــرگو رانجه

کابل - ۱۳۶۷ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمني روی

له روغ رمټ ســـړي ښخه رنځـــور مه جوړوئ
په جبر لــــه ميشته وو نه مهجـــور مه جوړوئ
وروري عزيزولي مو په نـــري سپڼسي پټليس ده
د ميني له نغـــري د غم تنـــور مــه جـــوړوئ
نيازمنو در قربان سم عواقبو ته يې ځيـــــر سئ
په لوی لاس له ځوانکـــي نه ناســور مه جوړوئ
په بده ورځ پرديـــــو ته لا هم ســـړي اړ کېږي
له خپل سكنــــــي ورور ښخـه تربور مه جوړوئ
په هــر گام و قدم كي د وطـــــن مصالح گورئ
د نفس له خواهشاتو ، دود دستور مه جـــوړوئ
معصوم وايي د زلمو په وينو دا سوبه روزي سوه
له دې مقدور بري نه نامقـــدور مــــه جوړوئ

كابل - ۱۳۶۷ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه سوده

که په شان د منصور ځوړند په دار نه سوم
دا هم شکر چي له میني بېزار نه سوم
قرباني که مي خپل سر تر ښکلو نه کړ
په دروغجنه مینه بې شرمسار نه سوم
که پر بده ورځ یم لیري له دوستانو
غنیمت ګڼمه دا چي اغیار نه سوم
که بلبلو ته سور ګل د ګلشن نه یم
دومره سوه چي علیحده ورته خار نه سوم
که تسبیح مي د تقوا په لاس کي نسته
دومره بس ده چي متهم په زنهار نه سوم
دري ګزی ډک په بې پتو ښایسته وو
حمد دئ خدای ته چي یې زه خریدار نه سوم
که مي توري ته لاس نه رسي معذور یم
ګوزارونه د قلم کړم په ډار نه سوم
اسوېلي مي نښانه د خوږین زړګي ده
خیر که چوپه خوله یم ناست په چغار نه سوم
استشهاد په خپل نامه کوم یارانو
چي موسوم یم په معصوم ګنهګار نه سوم

کابل - ۱۳۶۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپېڅلی احساس

که د پســـــرلي په باران
سمسور سي باغ د چمـــن
او يا د لمر په شغلـــــو
روښان سي ټوله وطـــن
يا د سهار پــــه پــرخه
خوښ ســي ګلاب يا سمن
د بلبـــلانـــــو په ږوږ
محشر سي جوړ پر ګلشـن
مسيــــحا دمــه وږمــه
څيــــري د مــړو کفن
زما شعــــــري ولولې
زما د زړه اند ېښنــــــې
زما د احساس موجـــونه
زما د مغـــــز پـــردې
رالــــــړزولای نه سي
ښخه چي ولي؟

او يا د پېغلـــــو ښکلا
د هغـــــوی ناز و ادا
د ښکلـــــو سترګو حيا
د مينـــوشانـــو غوغا
د ساقــــــي ډکي پيالې
رقص پايکــــوبي و نڅا
يا د رندانو ټـــولـــی
شـــونډي د ميــو مينا
زما شعــــــري ولولې
زما د زړه اند ېښنــــــې
زما د احساس موجـــونه
زما د مغـــــز پـــردې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رالمســـــولای نه ســــــي
نېخه چي ولي؟

که د مظلـــومـــو چيغـــي
او يا معصــــــوم آهـــونه
د نـــــازولـــــــــو ژړا
اورم د ويـــــر ســــرودونه
پر اهاړينــــــو دښتـــــو
د سرو غرمو مزلـــــــونه
او يا د کـــــــوندې ناوي
د واده ســـره لاســـــونه
يا د جگـــــــړې نوم اورم
يا د تــــوپـــــو درزونه
يا د گوليـــــــو شپېلکی
د طيـــارو ږغـــونـــــه
آه چـــــي وام سره لمبه سم
پر ســـر کـــم بل اورونـــه
اوه چـــــي وام تندر سمـه
وران کـــــم دا غښ برجونه
اخ چي وام شپې روڼي کړم
ليکـــــــم د سوز شعرونه
زما شعــــري ولولــــــې
زمـــا د زړه اند ښښنــــــې
زمـا د احساس موجـــونه
زما د مغــــــــز پـــردې
رالـــــــــړزولای نـــه سي
را ويښـــــــولای نه ســـي
نېخه چي ولي؟

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ازل کښلي

په دې دومره نعمتو کې پښتـــــون شوم پاته دئ
د دنیا له لذتـــو څخه محـــــروم پاتـــــه دئ
تصنـــــع سوله په گــــډه، لباسي سوله کارونه
د ښکلا و د ښایست یـــــوازي نـــوم پاتـــه دئ
د رحمت د باران څاڅکي، د غضب په اور الیش سول
صدف پټـــــه خپله خوله کړله مکتـــــوم پاته دئ
د وفا کمبله ټـــوله، د ښایسته وو بازار ســـوړ دئ
د هوس واری مـــــي تېر ســـو راته گروم پاته دئ
د قدرت ټول وسایل یې په کار واچـــول عاجز سول
اوس نـــــو بل څـــــه نه دي پاته، یو اټوم پاته دئ
د بېلتون ترخه جامونه مـي د وصل په نیت نوش کړل
اوس نه وصـــل نه ساقي ستـــه، خالي خوم پاته دئ
د پښتـــون پر کـــــرونده یې د نفاق نیالگی ایښئ
د گلاب پــــر ځای اغـــزی و یا زقـــوم پاتـــه دئ
یا اجل په مرگ محکــــوم کړل یا غائب سول له نظره
د نیکه بابا پــــــر مېنه یو معصـــــــوم پاته دئ

کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انسان

څه عجب شاني موجــود دی
څه مغلـق يې ساختمـــــان
په ښـکاره ځان اشــرف بولي
خـو ارزل دی تـــر حيــوان
چه د سکر شـراب وچښـــي
خپل ځان وبولـــــي يـزدان
حال د صحوي چي پر راســي
تر مېږي ســــــي ناتـــوان
که و ژوند ته ليـــــونی سو
هی تــــــوبه يې له هيـجان
ټپ د ميني پر زړه وخـــــوري
نه يــــي آه وي نه فغـــان
خـــو بيـا کلـــه له لـږ درده
لـــړزوي مځکـــــه اسمـان
کله ســـــر ترنورو جارکي
خپل ځان نه وي بانـــدي ګران
خو بل وخت لـــه ډېره سوختـه
ورانــــــوي ودان جهـــان
که د نور مينــــه پر زور سوه
ځان مکـــــوټ کړي په يو آن
که يې زړه تور لکه سکـور سو
بيا دښمــن ســــي د عرفان
کله دومره ځان غټ حس کــي
نه ځائيــــــږي پر کيهـــان
بل وخت دومري سي کوچنوټی
په يو کونج کــــي يې ګذران
تمــــــــدن ټوله له ده دی
تــرقـــي د ده ارمــــــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــو پــه ژوبلــه بيــا اتل دی
په مرگـــــــو کـي پهلــوان
د زمان بېـــــړۍ چي گــرزي
دی يـــې دئ لــوی کښتۍ وان
د تاريـــخ ټـول فجايـــع بيا
هـــــم د ده د لاس نښـــان
بڼ د ژوند چي سمســور وينـئ
دی د ده پــــــــه لاس ودان
خو ورانـــــۍ تـه د دې بڼ بيا
جــــــوړوي اټـــــوم بمان
چي ويارنې مي پــه زړه ســـي
پـــــر ځگـر سمـــــه روان
خو چي بد يــې را په ياد ســـي
وايــــم کاش نــه وای انسان
معصــــــوم نه دی پېـژندلئ
تل و ده تـــه دئ حيــــران

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د كاڼي كرښې

که په حال د کونډو رنډو و بې وزلو خبر نه سي
ټوله ورځ که راته ګډ وي، زما پر زړه یې اثر نه سي
قافله د اولسو به شو په شو سي سرګردانه
خدایږو نه رسي منزل ته، چي پر لار برابر نه سي
د شفق له لړمانه څه، د سهار روڼا راوزي
په کُره کي چي اور نه سي، تور پولاد به خنجر نه سي
د توپان لوړي باډاسکي به ببړۍ کي دړي وړي
که ماڼو د طغیاني ځپو و غبرګي ته ور نه سي
د هغه لښکر د سوبې، تمه مه کوئ یارانو
چي یو ځلی د جګړې پر ډګر کنډ و کپر نه سي
د رحمت د باران څاڅکي به ونه وینئ په سترګو
اسویلي که د وېرجنو له کوګله بهر نه سي
د نغري قدر و قیمت به هغه وخت ورمعلومیږي
چي پر لوړو و ژورو د پردو دربدر نه سي
له تاداوه یې نسکور کړه، په پتلیس کله رغیږي
دا ماڼي به جوړه نه کړې، تر څو زېږ و زبر نه سي
چي سرې سېلۍ د مني، د ګل پاڼي ټولي توی کړې
غوټۍ پټه خپله خوله کړه، چي سبا ته پر پر نه سي
بېرولی حوادثو چي و هر څه ته شکمن دئ
واهمه د معصوم ځکه، وایي له بدو بدتر نه سي

کابل - ۱۳۶۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوخ نرخ

په تکه توره شپه پسي راځي د لمـــــر وړانګې
ورانۍ د باران جز ، خو پرې ابادي کـــــرونـدي
الماس د حوادثو کــــه د زړه ښيښـــه درزي کړه
د صبر پتري غــــواړي، کنه ســـوه ريچې ريچې
توپير دی په تعبير کي چـــي پر حسن يې جنګونه
د چا شنې رانۍ خوښـــي، د چا سپيني پښتنـــې
دنيا يو مجمـــوعه ده د ګلانـــو او اغـزيـــو
ګلان ګېـــډۍ ګېـــډۍ وړه له اغزو ساته پايځي
د ميني په قانون کي د قيــــود ماده منســـوخه
حيران ستا و جرئت ته چي دا پوخ نرخ ماتـــوې
لايق د صفت نــــه دی مين زړه چــــي ژړا نه کا
ترې جوړ که اور لــړونی که ړغ نه يو ست سريندې
پرده کي چي ځان نغـاړي له دوو حالو خالي نه وي
يا حسن د پـــرۍ لـــري يا رنګ يـــې بـــې مزې
تاريخ د ژوند مو ټوله حماسې دي هنګامـــې دي
په زړه به ډېر ساده وي که شا کـــــي سوله جګړې
ببرېږه له سکونه، خځېـــــدو کي څه عيب نستنه
د شنې چيني اوبه ســــــي په ډنډونو کي ورستې
معصومه ځان سمبال که کړاوو ته که ژوند غواړې
بقاء ده پـــــه جدل کــــي دا آئين د زمانـــې

کابل - ۱۳۶۲ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه یې کوم

په محک چي ګلپ راووزي سور وښی به څه کوم؟
چي کاروانه د کوچني کړي، لوی سړی به څه کوم؟
پسرلی خو یو سمبول د غوړېدو او خندېدو دئ
چي خندا سوه راخه هېره، پسرلی به څه کوم؟
صدقه تر هغه سر سم چي په عشق کي سودايي وي
که په مینه مجنون نه وي، لیونی به څه کوم؟
صحرا ډکه په کودرو، د خاشي ارزښت یې نسته
چي مي کومی په لوند نه سي، سړوبی به څه کوم؟
د لښکر سیاهي یې بوله، تېر نه دي مه په ویاړه
چي پر بده ورځ مل نه سو، خپل پردی به څه کوم؟
ظواهر مي خطا باسي، د باطن ګته يې وايه
که په یخ په ښه را نه غئ، سپین کوسی به څه کوم؟
چي په غم مي خوشالېږي، په ماتم مي هوسېږي
په څه درد به دراني خوري او غلجی به څه کوم؟
چي لورینه یې پر کونډو، یتیمانو د قام نه وي
سړېنی به څه کوم؟ بیټنی به څه کوم؟

کابل - ۱۳۶۲ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاينات

چي پر نورو مو خنـدل هغه راوسوه
اولني ياران مو ټوله تـور لېمه سوه
حجابونه د معنا چي سـوله پورته
چي ګنېل مو مستقيم هغه کاږه سوه

کابل - ۱۳۲۵ش

## د هستۍ شرط

چـي يـي ختمـه پخـول د آدمــزاد
اينبـوئ چـي د بشر د کـور بنياد
د هستۍ بار تي په دي شـرط اوړه ورکړه
چـي پـه ژوند کـي به دايم يمه آزاد

کابل - ۱۳۲۵ش

## جګه غاړه

خـه ارزوګاني د ګور دبنـدي سوي
څومره ککـري، کام د مرګي سـوي
جار تر ها ستر ګو، قربان تر خولويي
چي نه سوي تيتي، نه په زاري سوي

کابل - ۱۳۲۵ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## رجا

که مي نن زړګی له غمــه خخــه شين دئ
يا له سترګو مي روان د اوښکو سين دئ
هره سخته دوې خوښــې لري په وړاندي
دا مي دين، دا مي آئين دا مــي يقين دئ

کابل - ۱۳۲۵ش

## آخر ولي؟

ولي مو راوېښ کړم د ځوانـۍ له خوارېه خوبه
ځله مـــو رابېل کړم له جنـــون له ليونتوبه
اوس په لا علاجه رنځ اختـــه يم نه رغېږمه
هی تـــوبـــه ! د مغـــز له ايشناوه له آشوبه

کابل - ۱۳۲۵ش

## آغم ځپلو !

آ سترو سترو ! آ جل وهلــو !
آغـــم ځپلــو ! آنازولـو !
لمبېږئ تاسي په خپلو وينـو
ګټه يې بل وړي، آو بر ژړلو !

کابل - ۱۳۲۲ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واقعي مسئول

دا چي ويني نن بهېږي دي مسئول لوی قدرتونه
اچولي يې فتنـــې دي جنګـــوي سکنـي وړونه
نه په غم کي د بشر دي، نې لورينه پر انسان سته
ازمويې خپلي وسلې و خرڅوي خپل توپکـــونه

کوئټه - ۱۳۲۸ش

## پښتانه

ماضي مو د وياړو او مفاخـــرو مجموعـــــه ده
تاريخ مـــو سر تر پايه کارنامه ده، حماسه ده
قدرت زما په قرعه کي آزادي تل را ايستلـــې
دنيا ته مـــي نامـــه نن جوړه کړې هنګامه ده
پامير د نړۍ بام دی زما بيـــرغ پاس پر رپېږي
ايشا يو ارت کـــور دئ زما وطن يې دروازه ده
سر خرويه ځکه ګـــرزم چي غلام نه وم هيڅکله
د وينو په سېلاب مي مزرعـــه د تاريخ شنه ده
هيبت د سرو لښکـــــرو جهان تـــول و بيرولئ
تأثير زما د ګــوزار چي کوږ يې توغ و نغاره ده
اسمانه ښـــه يې واوره، په واز کومي درته وايم
افغان، پښتون پټان دئ يو مفهوم يــوه نامه ده
ښايست، حسن، ښکلا ټوله د ميني تعابير دي
توپيـــــر دئ د الفاظو مسمی ټوله يــــوه ده
کاروان د ارادو مو په مـــــزله نه ستومانېـــږي
نيستی ده د سالار چي مـــو نن ورکه قافله ده
غلط نه سئ زلميو ، په حيلـــو يې خطا نه سئ
روښانه لکه لمر ستاسی راتلونکـــې آينده ده

ګلشن اقبال - کراچي - ۱۹۸۹ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې مِهره ساحل

د سمندر لـــه تـــوپانـــو را تښتېدلـــي څپـــه
له غټو سخـــرو سره و نښته قطـــره سوه
چي داښوى پرښي يـــې مـــــرجع د نجات وبلله
د اميدونــــو دنياگۍ يـــې خـــوره وره سوه

++++

د حوادثـــو په سېلاب کي لاهـــو سوي شاعر
د سرگردان موج په آينه کي يې خپل ځان وليدئ
د تودو اوښکو سمندر يې گرېوانه ته تـــوى سو
له ارمانونــو ډک زړگى يې پکښي وران وليدئ

++++

د سر خوړلـــي څپي ژوند د حال په ژبـــه وايي
هره کـــرکنده، هــــره گرگه ‌دَرَسته مـــــه گڼئ
دا په ظاهـــره کي درني خوبـــې احساسه تيږي
د خپل نجات، خپلي ژغورني وسيله مه گڼـــئ

کراچي - ۱۹۸۹ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ورکه هديره

تندرونه پاس له هسکه راشوه سي
که سا کښ وي که بې سا ټول لو لپه سي
د چا لاس د چا مغزی و د چا ګوتي
سي پيدا ، وربانـدي جوړه مقبره سي
و ژوندو تـه خپله مېنه سره تبۍ سي
نامعلوم لور تې روانه قافله سي
ځوک جل ووهي له تندي چولاوه سي
پردا نورو چي قاصد د اجل راسي
د ژوندون له پټي خلاص، مرګ يې پرده سي
مرګی حق دئ خو د وير خبره دا ده:
ورک يې نوم، ورک يې مدفن و هديره سي

ګلشن اقبال - کراچي - ۱۳۶۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خزان پسرلی

پســـرلی څه دئ؟ د ګولونـــو موسم
د سپړېدنـــو ، غوړېدلـــو مـــوسم
د بلبـلانـــو د رېـــزونـــو محشـــر
د ســـرو ګلانـــو د وږمونو موسم

++++

زما له پسرلي څخه ښایست سو کډه
پر نازل سوئ دئ د وینـــــو سېلاب
که په نامه یو څو غـــــوټۍ غوړېږي
تاندي لباندي ســـي په تیغ د قصاب

++++

پســـــرلی راســـي خو ګلونه نه وي
که وي بیا ، هلته يې خوندونه نـــه وي
د حمل نوم ورباندي مـــه ایږدئ نـــور
چي یو مخ مرګ وي، حیاتـــونه نه وي

++++

سور ګل خو نښه د پســـرلي وه پخوا
نن يې ښایست، نن يـــې مزه ده تللې
ستخ سو له زړونه له سره رنګه څخـــه
ازبس چـــي ډېري وینـــې ولیدلـــې

++++

د هندوکش له سپین واورین تندي نه
د ستومانـــۍ خولې موجونه وهـــي
اوښکـــي روانـــي د بابا پـــــر ږیره
د مخ شیلـــې يـــې تیندکـــونه وهي

++++

پر ارغنـــداب د غم څلـــونه ګرزي
لېـــږدوي، اړوي د غم کهـــولـــونه
د غم انـدېږ يـــې پر بارکړي، دروميي
پر ســـر باري يـــې وي غمجن سرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



++++

زما ارغســـان نــور مځکي نه ابوي
نېستوي غېږ کــي د ســـړو قافلې
غورځوي ځنډو ته د ګرګو پــــر ځای
د لاهو ســـوو انسانانـــو شغــــې

++++

مل به ليدل چـــي د هيلمند پـر غاړه
خو کنډوالي وې د لـرغــونــي زمان
په پسرلي به ځـه محشـــر سو پر جوړ
ورتــه راتلل بـــه پـــه زرو سيلانيان

++++

نن هـــره مېنه کنډوالـه کنډوالــه
تازه کــوي ياد د لـــرغــونــو وختــو
خو سيلانيان يـــې دي له خپله کوره
ننداره چيان يــې دي د خپلـــو ملکو

++++

ښه پســـرلی د ښې راتلونکـــي ننبه
د سمسورۍ زيری په ځنګ کـــي لري
د دې کوړډاګو پسرلی بوله خــــزان
چي د وروری ادعا په جنګ کي لــري

کراچي - د حمل لومړۍ ورځ - ۱۳۲۹ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهاجرت

په قرعه چي مي ختلې پرد ېســـي ده
له ژوندونه مزه تللې ده، خـواري ده
په پاخه کاڼي مو تول (مهاجرت) کړ
لو بې پايـه و اوږده ســـرګرداني ده

کراچي - ۱۳۲۹ش

يادونه: د (مهاجرت) ابجدي ارزښت **۷۴۹** دئ او د وروستۍ مصرع ابجدي ارزښت هم **۷۴۹** کيږي - په دې حساب (مهاجرت) د (لوبې پايه و اوږده سرګرداني ده) سره برابر دئ. (هوتک)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**